مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۶/۰۲/۲۲

# اوس نه دی

زما هم ښکلي ورځي يارو چي اوس نه دی

زماهم څوک چيري غمخوار ؤ چي اوس نه دی

د چا دووسترګو دا زما لارهم څارله

زما هم څوک سترګي پر لار ؤ چي اوس نه دی

د چا غيږ وه ماته هم په مينه خلاصه

زما هم زړه پرچا کرار ؤ چي اوس نه دی

دا خزان ژوند مي له سره خزان نه ؤ

پر ما هم دا ژوند بهار ؤ چي اوس نه دی

پر تول تن مي راچاپېر له شور د ميني

سوراور، سوراورؤ، انګارؤ، چي اوس نه دی

پېغلي هيلي مي په زړه کي غوړېدلي

د خوښيو پرما وارؤ چي اوس نه دی

پدي خواره ورځ چي اوس يم مدام نه وم

خدای چي ډېرسم مي هرکارؤ چي اوس نه دی

زه اکبر وم، تل خوښي وي، بهارونه

را په ښي اړخ مي روزګارؤ چي اوس نه دی



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ